## د څېړنې ګډونوالو لپاره معلومات

نشنل سنټر فار سوشل ریسرچ (NatCen) د برتانیا د پناه غوښتنې سیستم کې د بدلونونو په اړه د خلکو په اګاهي او نظرونو باندې د پوهیدو لپاره څېړنه ترسره کوي.

موږ له هغو خلکو سره خبرې اترې کوو:

- تاسو **په جنوري 2023 کې او یا وروسته له هغه** په برتانیا کې د پناه غوښتنه کړې ده
- تاسو **په جنوري 2023 کې او یا وروسته له هغه د قاچاق د احتمالي قربانیانو د ملي راجع کولو میکانیزم** ته راجع شوي یاست

دا څېړنه د **هوم آفس یا کورنیو چارو وزارت لخوا** تمویل کېږي، مګر NatCen یوه **خپلواکه** اداره ده. یعنې موږ **د هوم آفس** یا حکومت **برخه نه یو،** او **پدې اړه چې خلک په انګلستان کې پاتې کېدی شي یا نه، موږ پرېکړه نه کوو.**

## زه باید څه وکړم؟

پدې څېړنه کې له برخه اخیستلو سره به یوه څېړنیزه مرکه هم شامله وي.

- دا مرکه به **د NatCen له یوه څېړونکي سره وي** او **له 60 تر 90 دقیقو به دوام وکړي**.
- که تاسو غواړئ، تاسو کولی شئ دا مرکه د **انګلیسي ژبې پر ځای په یوه بله ژبه ترسره کړئ**. موږ به یو ژباړونکی وکاروو.
- که تاسو غواړئ تاسو کولی شئ یو څوک له ځان سره ولرئ ترڅو د تاسو ملاتړ وکړي.
- تاسو کولی شئ دا مرکه **د ټلیفون، ویډیو کال له لارې یا په شخصي حضوري بڼه** په داسې وخت کې ترسره کړئ چې تاسو ته مناسب وي.
- **که تاسو موافق یاست، موږ به دا مرکه ثبت کړو** ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ستاسو له ویناوو څخه هیڅ څه هېر نشي.
- ستاسو د وخت لپاره د مننې په توګه به تاسو د **£40 یو پیرود واؤچر** ترلاسه کړئ.
- موږ کېدی شي له تاسو څخه وغواړو چې په نورو څېړنو کې برخه واخلئ ترڅو ستاسو د تجربو په اړه لا ډېر معلومات ترلاسه کړو.

## له ما څخه به د څه په اړه پوښتنه وکړئ؟

د مرکې څخه مخکې، موږ به د تاسو، کله راورسېدئ، او ستاسو د کډوالۍ غوښتنلیک په اړه ځینې پوښتنې وکړو ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې زموږ پوښتنې د تاسو لپاره مناسبې دي.

د مرکې په مهال، موږ ممکن له تاسو څخه د لاندې ټکیو په اړه پوښتنه وکړو:

- د پناه غوښتنې سیسټم د مختلفو برخو په اړه ستاسو پوهه
- د پناه غوښتنې سیسټم سره د ښکیلتیا په اړه ستاسو تجربې چېرې چې اړونده وي
- د پناه غوښتنې قوانینو او پروسو کې د اوسنیو یا وړاندیز شویو بدلونونو په اړه ستاسو نظرونه
- دا بدلونونه څنګه کولای شي تاسو یا په همداسې شرایطو کې نور اغیزمن کړي

موږ به له تاسو څخه پدې اړه چې ستاسو په اصلي هیواد کې تاسو ته څه پیښ شوي پوښتنې ونکړو.

دا څېړنیزه مرکه د کډوالۍ مرکه نه ده - دا ستاسو د قضیې یا کېس برخه نه ده. **موږ پدې اړه چې خلک په انګلستان کې پاتې کېدی شي یا نه پرېکړه نکوو او نه هم د دې مرکې څخه ترلاسه شوي معلومات له هغو خلکو سره شریک کوو چې دا پرېکړې کوي.**

که تاسو غواړئ تاسو کولی شئ غوره کړئ چې پوښتنو ته ځواب ورنکړئ.

## ایا زه باید برخه واخلم؟

که چېرې تاسو نه غواړئ، تاسو **اړ نه یاست چې پدې څېړنه کې برخه واخلئ.** پدې څېړنه کې برخه اخیستل یا نه اخیستل به ستاسو د کډوالۍ په کېس یا اوس مهال یا په راتلونکي کې دلته د تاسو د پاتې کېدو پر حق باندې هیڅ ډول اغېزه ونلري.

که چېرې غواړئ تاسو کولای شئ **غوره کړئ چې پوښتنو ته ځواب ورنکړئ** او تاسو کولی شئ له مرکې څخه تر 6 اونیو پورې پرته له دې چې دلیل وړاندې کړئ **د خپلو معلوماتو د حذف کېدو غوښتنه وکړئ**.

## هغو معلوماتو ته چې زه یې تاسو ته درکوم څه پېښېږي؟

د معلوماتو ساتنې قانون سره سم، ټول هغه معلومات چې تاسو یې وړاندې کوئ جداً محرم او خوندي ساتل کېږي، او د پروژې په پای کې حذف کېږي. موږ به هوم آفس لپاره د هغو مهمو مسئلو په اړه یو راپور ولیکو چې د تاسو او نورو لخوا په ورته شرایطو کې پرې خبرې شوې. موږ به د هوم آفس په ګډون **هیچا ته نه وایو** چې چا پدې څېړنه کې برخه اخیستې یا هر یو ګډونوال څه ویلي دي. موږ **نومونه، د قضیې شمېرې یا نور ځانګړي توضیحات** په راپور کې نه شامله وو.

زموږ لخوا ستاسو د معلوماتو د کارولو او ساتلو د څرنګوالي په اړه نور معلومات دلته چمتو شوي [privacy notice link]

## زه چېرته کولی شم د خپل کېس په اړه ملاتړ ترلاسه کړم؟

لاندې موسسې کولی شي د کډوالۍ سیسټم په اړه ملاتړ یا معلومات چمتو کړي.

**مایګرنټ هلپ (Migrant Help)**
**ویب پاڼه:** www.migranthelpuk.org
**د مرستې ټلیفوني کرښه** (په ورځ کې 24 ساعته وړیا ټلیفون شمېره): 08088010503
**برېښنالیک پته:** له Migrant Help سره د webchat له لارې یا د د یوښتنو آنلاین فورمې له لارې اړیکه ونیسئ.

**ریفیوجي کونسل (Refugee Council)**
**ویب پاڼه:** www.refugeecouncil.org.uk
**د مرستې ټلیفوني کرښه** (د سهار 9:30 څخه تر 12:30 بجو پورې د دوشنبې څخه تر پنجشنبې پورې): 08081967272
**برېښنالیک پته:** refugeeadvice@refugeecouncil.org.uk

**سامریټانز (Samaritans)**
**ویب پاڼه:** www.samaritans.org
**د مرستې ټلیفوني کرښه** (په ورځ کې 24 ساعته وړیا ټلیفون شمېره): 116-123
**برېښنالیک پته:** jo@samaritans.org

## موږ سره اړیکه ونیسئ

که **کومه پوښتنه لرئ یا غواړئ د مرکې وخت بدل کړئ**، مهرباني وکړئ موږ سره اړیکه ونیسئ.

- migrantresearch@natcen.ac.uk
- 0808 168 2791
- www.natcen.ac.uk/migrantexperiences

په دې څېړنه کې فقط محدود ځایونه شته. مانا دا چې **موږ ممکن له هر هغه چا سره مرکه ونه کړو چې موږ ته وایي چې دوی ګډون پکې کول غواړي.**